# الهمزة

**مکی سورة دی ۹ آیتونه لری**

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

## وَيۡلٞ لِّكُلِّ هُمَزَةٖ لُّمَزَةٍ ۝١

**تباه دې وی هر عیب لټوونکی پیغور ورکوونکی( چې مخامخ خلک رټی او پیغورونه ورکوی او په غیاب کې یې غیبتونه کوی او عیبونه یې رسواکوی).**

## ٱلَّذِي جَمَعَ مَالٗا وَعَدَّدَهُۥ ۝٢

**هغه چې مال راټولوی او په شمار یې ذخیره کوی.**

## يَحۡسَبُ أَنَّ مَالَهُۥٓ أَخۡلَدَهُۥ ۝٣

**دی ګومان کوی چې شتمنی به یې تلپاتې وی( او دی به هم تل ژوندی وی، نه د مرګ غم ورسره دی او نه له مرګه وروسته د حساب کتاب اندیښنه).**

## كَلَّاۖ لَيُنۢبَذَنَّ فِي ٱلۡحُطَمَةِ ۝٤

**نه- داسې نه ده بلکه هرو مرو به یې (له ذخیره کړی مال سره ټوټه کوونکی اور) حطمې ته ور وغورځوو.**

## وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلۡحُطَمَةُ ۝٥

**او ته څه خبر یې چې حطمه څه دی؟**

نَارُ ٱللَّهِ ٱلۡمُوقَدَةُ ٦

د الله تعالی( له خوا د جهنم) بل کړی شوی اور دی (چې هر شی توته توته کوی).

ٱلَّتِي تَطَّلِعُ عَلَى ٱلۡأَفۡـِٔدَةِ ٧

هغه اور چې لمبې یې په زړونو ورپورته کیږی.

إِنَّهَا عَلَيۡهِم مُّؤۡصَدَةٞ ٨

(دوی به یې په منځ کې پراته) دروازې به ورپسې تړلې (او د تیښتې لار به یې نه وی).

فِي عَمَدٖ مُّمَدَّدَةِۭ ٩

(هغه اور چې لمبې به یې) د لویو ستنو په شان په غرغنډو وی.

« تمت سورة الهمزة بفضل الله و رحمته»

========================